و چنان شهادت اسلمی ساختیم
تا مردم کوکنی باشد به پیامبر صلی الله علیه وسلم شهادت گواه باشند

(٤) صفحه

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شماره مسلسل (۱۰۱۳) سال هژدهم ،شماره (۹۹) چارشنبه (۱۷) عقرب ۱۳۷٤هـ ش (۱۵) جمادی الثانی ۱٤۱٦هـ ق (۸)نومبر ۱۹۹۵م

دهماهنګی عالی شوری هیئت له محمود مستیری سره وکتل

مستیری وویل چی که استاد ربانی ترپنجشنبی پوری دقدرت دلیږدولو اعلان ونکړ، بیا زه خپل دریځ اعلانوم اوپه یوه نوی کړنلاره کارپیلوم

مولوی "خالص" ته داقتدارلیږدول بی معنی کاردی

دسولی دطرحوپه وړاندی داستاد "ربانی" برخوردمعقول دی خودمسعود اواستاد سیاف چلندونه ستونزی راولاړوی

دهیئات غړی "هلال" ، ډاکټر طالب ، ډاکټر "بهیر" اومولوی عبدالباقی وو

اسلام آباد - دلړم ۱۵ مه :
پرون په اسلام آباد کي دافغانستان داسلامي انقلاب دهماهنګي دعالي شوري هيئات دملګروملتونو په دفترکي ،دافغانستان په باره کي دخفه سازمان له ځانګړي استاځي محمودمستيري سره وکتل .

دشهادت خبريال ليکي چي په دي کتنه کي دهماهنګي شوري هيئات چي انجنيرقطب الدين «هلال» ، ډاکټر «طالب» ، ډاکټر غيرت «بهير» ، اومولوي عبدالباقي ،ترکستاني، پکي شامل وو، دافغانستان دبحران دحل په برخه کي خپلي طرحي اوسياست تشريح کړ اوداوني ورکړچي هماهنګي شوري په ټول طاقت هڅه کوي چي زموږ دهيواد بحران پاي ته ورسيږي او ولس موله سولي اوامنيت نه برخمن شي .

خبريال زياتوي چي محمودمستيري هيئات ته وويل چي ستاسي له مقابل لوري څخه استاد رباني د سولي دطرحوپه وړاندي معقول برخوردکوي خوداحمدشاه مسعود اواستادسياف چلندونه ستونزي راولاړوي .

محمودمستيري همدارنګه زياته کړه چي ده استاد رباني تـه ويلي چي که (٤)مخ

دکوتل زرسنګ اوچهاردهی سیمی دنظارشوری لهافرادو نه تصفیه شوی

سمنګان - دلړم ١٦ مه :
دسمنګانو ولايت ددره صوف ولسوالي شاالوخواکي دهماهنګي عالي شورا اودنظارشورا د ځواکونوترمينځ جګړه ادامه لري .

دوحدت اسلامي دګونديوه خبرځاي شهادت ته په خپل مخابروي رپوټ کي ويل دغه جګړه چي دبيګاشپي راهيسي پيل شوي د نظارشورا ځواکونوته دسراو مال زيات زيانونه وراوښتي دي .

منبع وائي په دغوعملياتو کي چي اوس هم ادامه لري دهماهنګي عالي شورا ځواکونه په دي بريالي شول چي دزرسنګ کوتل ،کوته اودچهاردهي سيمي دنظارشورا دافرادوڅخه ونيسي او اوس دهماهنګي عالي شور ځواکونه ددره صوف بازارلوري ته دپرمختګ په حال کي دي .
(٤)مخ

اقای خراسانی دیپلومات ایرانی درگفتگوباشهادت :

برتری های مقطعی یک گروه بر دیگری مشکل افغانستان راپیچیده ترمی سازد

سیاست ایران درقبال افغانستان برپایه عدم مداخله استواراست

پشاور - ١٥ عقرب :
آقاي خراساني ديپلومات ايراني مقيم پشاور شايعات "مداخله" ايران درامورداخلي افغانستان را تكذيب نموده آن را بي اساس ودور از حقيقت خواند .
آقاي خراساني درگفتگو باشهادت به سياست ثابت وصريح كشورش درهمه مسايل بخصوص درقبال مسئله افغانستان تاكيد نموده گفت : سياست جمهوري اسلامي ايران درقبال مسايل مربوط به افغانستان به همگان آشكاربوده وبرپايهٔ عدم مداخله استوار است . ايران درامور داخلي افغانستان هيچگاه مداخله ننموده وبرپاليسي عدم مداخله تاكيد دارد .

وي گفت : ماخواهان استقرار صلح وثبات دايمي درين كشور جنگزده هستيم ومعتقديم كه مداخلات بيگانگان تحت هرعنواني كه صورت گيرد، نه تنها مسئله را نميتواند حل كند بلكه آنرا پيچيده تر نيز ميسازد .

ديپلومات ايراني درمورد اتهامات وارده مبني بر احداث اردوگاه هاي تربيهٔ نظامي براي افراد جمعيت اسلامي وشوراي نظار درداخل خاك ايران گفت : اين گونه حرف ها بي اساس است زيرا جنگ آوران افغان ضرورت به تربيهٔ نظامي ندارند جوانان افغان استعمال هرگونه اسلحه را درطول جهاد باروسها فراگرفته
ص(٤)

دځينومهمولويوطاقتونوخبرداری :

ترخوچی دظاهرشاه دواکمنی لپاره لارنه وی اواره شوی ، باید دربانی دسقوط لپاره جدی اقدام ونشی

طالبانوته د واك سپارل دخارجی نقشولپاره نوی پیچلتیاوی رامنځ ته کړی

دظاهرشاه دراتلوپه سرپه پاکستانی حلقو کی اختلاف دی

داسلام آباد په خبروکی تعطل دهمدی بهرنیوطاقتونو له ګواښ سره بی ارتباطه نه دی

پيښور - دلړم ١٦ مه :
دشهادت ځانګړي خبريال دځينو باخبره سرچينو په حواله رپوټ راکوي چي ځينومهمو بهرنيوطاقتونو په دي وروستيو کي په منطقه کي خپلو دوستانوته خبرداري ورکـړي چي ترڅوچي په افغانستان کي دظاهرشاه دواکمني داعادي لپاره لارنه وي اواره ، بايد له هرراز داسي جدي اقدام نه ډډه وشي چي په نتيجه کي ئي درباني اداره سقوط وکړي اوواك طالبان په لاس کي واخلي . سرچيني وائي چي ددي طاقتونو لوروتبه ماموريتو خپلو دوستانوته ويلي چي دطالبانو په لاسونو کي د قـدرت لـه پريوتونه دهغونقشولپاره چي دوي ئي دافغانستان دبحران دحل په خاطرلري نوي پيچلتيا وي رامنځ ته کيداي شي .

سرچيني زياتوي چي اوس په کابل کي يوځل بيا کوم رکود حاکم شوي اويا داسلام آباد مذاکرات له کوم تعطل سره (٤)مخ

طالبان جنرال روسی رابازداشت نموده اند

هرات - ١٥ عقرب :
طالبان ادعا كرده كه يك افسر عاليرتبهٔ روسي را درهرات بازداشت نموده اند .
به گزارش فرانس‌پرسیت ، نجيب الله عرفان ،سخنگوي طالبان درپشاور اظهار داشته كه اين افسرروسي كه درولايت هرات براي كشورش جاسوسي ميكرد، شناسايي وبازداشت شد ودرمحكمهٔ اسلامي به اتهام ورود غير مجاز به كشوربيگانه وجاسوسي محاكمه ميشود .
عرفان شخص بازداشت شده را گيلاچُف ورتبه اش را جنرال معرفي نموده ميگويد نامبرده دريكي از دشت هاي هرات بازداشت شده اما تاريخ مشخص اسارت وي ذكرنگرديده . وي گفت بازداشت گيلاچُف بيانگر مداخلهٔ روسيه درامور افغانستان است .
نجيب الله عرفان افزود : طالبان درين زمينه اعتراض نامه اي به نمايندگي سفارت روسيه درتهران فرستاده اند ، بقول وي اخيراً يك ديپلومات روسي باجنرال بازداشت شده ملاقات نموده است .

طالبان په کابل باندی د پراخو عملیاتو لپاره تیاری نیسی

هره ورځ لاریوکی بار، درنی وسلی اومهمات دجګړی لومړیوکرښوته وړل کیږی

ميدان ښار - دلړم ١٦ مه :
طالبانويوځل بيا دجګړي لمړيوليکوته تازه دم افراد ، وسلي اودمهماتو راوړل پيل کړي .
دميدان ښارڅخه راغلي عيني شاهد شهادت ته وويل طالبان غواړي يوځل بيا دکابل په ښارپراخ عمليات ترسره کړي چي په همدي منظور دبوي اوني راهيسي هره ورځ خپل تازه دم افراد ، درني وسلي اومهمات دغزني اوقندهار نه دميدانښار او چهارآسياب خواوته رانقلوي .
دغه عيني شاهد زياته کړه دغه افراد ، وسلي اومهمات دطالبانو لخواولجه شوي لاريو کي دجګړي لمړيو کرښو ته راوړل کيږي .

استاد ربانی حین سخنرانی درکابل :

قبل ازانتقال قدرت اتش بس برقرار، مداخلات خارجی قطع وامنیت لازم فراهم گردد

اداره کابل حاضراست باهمه گروه ها مذاکره کند

سازمان ملل پروسهٔ صلح درافغانستان راسرعت بخشد

كابل - ١٦ عقرب :
استاد رباني باردیگرآمادگي مشروط خودرا براي انتقال قدرت اعلان داشت .
گزارش هاي رسيده ازكابل حاكيست استاد رباني كه دراجتماع اعضاي كابينه و مسئولين ملكي ونظامي ادارهٔ كابل صحبت ميكرد ،آمادگي خودرا براي انتقال قدرت اعلان داشته وضمناً شرايطي را براي اجراي اين عمليه ياد آورشد.
استاد رباني درين سخنراني طولاني ص(٤)

سران ایران وپاکستان مذاکرات شان رامفیدوموثرخواندند

رفسنجاني : ايران به خواست مردم كشميراحترام قايل است

بوتو: پاکستان ازهیچ گروه افغان حمایت نمی کند

نخستين دور مذاكرات بي نظيربوتو صدراعظم پاكستان بامقامات جمهوري اسلامي ايران روز سه شنبه درتهران برگزارشد :
دور اول ديدار بينظيربوتو صدراعظم پاكستان بامقامات جمهوري اسلامي ايران روزگذشته درتهران برگزارشد.
گزارش خبرگزاري هاحاكيست دردیدارعلي اكبرهاشمي رفسنجاني رئيس جمهوري اسلامي ايران باخانم بينظيربوتو صدراعظم پاكستان پيرامون مسايل مورد علاقه طرفين بحث تفصيلي صورت گرفت . درگزارش گفته شده كه طرفين درمورد توسعهٔ همكاري هاي اقتصادي
ص(٤)

علي اكبرهاشمي رفسنجاني رئيس جمهور ايران روز دوشنبه درميدان هوايي تهران هيئت پاكستاني بریاست بينظيربوتو صدراعظم اینکشوررا استقبال مینماید

دیونس قانونی اودکندز ولایت دقوماندانانو ترمنځ خبری اتری ناکامی شوی

قوماندانانو دهماهنګی عالی شوری له ځواکونوسره له جګړی کولونه ډډه وکړه

کندز - دلړم ١٦ مه :
دڅو ورځو راهيسي دکندز په ولايت کي دکابل اداري ددفاع وزارت دسياسي چارو مسئول يونس قانوني اودکندز ولايت دقوماندانانو ترمينځ چي کومه غونډه روانه وه پرته له کومي نتيجي څخه پاي ته ورسيده .
دکندز ولايت څخه دحزب اسلامي يوي باخبري منبع شهادت ته په خپل مخابروي رپوټ کي وويل قانوني چي ځوموده دمخ دتخار په ولايت کي دروسي هيئت سره دکتني له پاره ورغلي و هيئت سره له کتووروسته کندزته تللي و او هلته ئي دجمعيت دقوماندانانو برسيره دنورو تنظيمونو قوماندانانوسره دهغي فيصلي په باب خبري وکړي چي له روسي هيئت سره ئي کړي وي او هغوي ته يي وغوښت چي کندز ته دکاروانونو په راوسولوکي مرسته وکړي خونومړو قوماندانانو دقانوني دي (٤)مخ

اعلان فاتحه

ملت مجاهد افغانستان (مقيم ومهاجر) همه اطلاع دارند كه درين اواخرډگرجنرال محمدغيور قوماندان نام آورمعارك خونين وحماسه آفرين جهاد ، براثريك پلان ونقشهٔ دقيق دشمنان اسلام ، به هنگام عبوراز ولسوالي حضرت سلطان مربوط ولايت سمنگان ، طي يك كمين خطرناك ، به همراهي پانزده تن ازياران خويش به مقام فرخندهٔ شهادت نايل گرديدند .

بدينوسيله شهادت اين خونين كفنان مؤمن را به آگاهي كليه برادران مؤمن وغمگسار رسانيده وتمنا داريم كه درمراسم فاتحه خواني شهداي موصوف اشتراك نموده ودعايي بروح پاك ايشان بفرستند.

فاتحه داران : حاجي بسم الله برادر ډگرجنرال محمد غيورشهيد ،وسايربرادران ولايت بغلان .
تاريخ : روز جمعه ١٩عقرب ١٣٧٤ از ساعت : ٨ - ١٢ قبل از ظهر
آدرس : شمشتو - نصرت مينه - مسجد جامع امام محمد شيباني

چندین راکت برنواحي مختلف شهر کابل پرتاب شد

كابل - ١٦ عقرب :
امروز نيزچند راكت درنواحي مختلف شهركابل پرتاب گرديد .
يك منبع مؤثق ازشهركابل به شهادت گفت : اين راكت ها كه حوالي هشت صبح پرتاب گرديد درميدان هوايي خواجه رواش ، بالاحصار، پل محمودخان ومحدوده ارگ اصابت نمود .
منبع افزود درين راكت باران يكنفروچند باب عمارت نيز خساره مند گرديد .
براساس همين گزارش بامداد روزگذشته درگيري ميان نيروهاي ادارهٔ كابل وطالبان در مناطق ريشخور وتپه هاي خيرآباد جريان داشت . منابع ادارهٔ كابل ميگويند كه طالبان اقدام به حمله نمودند ولي بعداز درگيري شديد ميان طرفين دفع شد. ودرخطوط مقدم جبهه تغيري وارد نشده است .
گفته ميشود طرفين متحمل تلفات جاني ومالي شده اند ولي ميزان دقيق آن گزارش نشده است.

پیمان وارسا باهویت جدید

ص(٤)

شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر : محمد نذیر «بشارت» .
تحت نظر هیئت تحریر
تيليفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

اسلام، مسلمان، نوي ازمويښت

پووخت داخبره کیده چي په اسلام کي سیاست نشته ، اسلام دیوه دین په توګه په فردي او ټولنیزلحاظ بواځي په هغوچاروکي مداخله کوي چي په اخرت پوري اړه ولري، اوخالص عبادي اړخ ولري .

دایوه توطیه وه ددي لپاره چي داسلام له روح نه مسلمان محروم کړي، داسي چي مسلمانان ونکړاي شي چي داسلام داساساتو له مخي يوټولنيزاوسياسي بدلون راولي، ديوه لوړ اورشيدقيادت خاوندان شي، عدالت تأمين کړي اويوه داسي ټولنه اونظام جوړکړي چي په هغې کي اصلاح وي، فلاح وي، ورورولي او رشد وي ، وحدت اوسکون وي، ارتقا او تکامل وي، شرافت اومصئونيت وي ، خپلواکي اووقاروي اوبالاخره له خپلو حقوقو اوارزښتونو ندفاع استعداد اواهليت وي .

دادهغو طاقتونو دسيسه وه چي هغوي ګمراه وو، متعصب وو اوداسلام حاکميت اوپه امت کي داسلامي ، مبارزاتي شعور رازرغونيدل اوتبارزتي خپلوګټو لپاره ګواښ ګاڼه . هغوي پوهيدل چي په اسلامي امت کي اسلام ديوه ټول اړخيزاوکامل دين په توګه واکمنيږي ، بيا به داسلامي نړي سرنوشت ددوي له لاسه وځي، بيا به مسلمان ددوي درحم اوکرم له مرګوني اسارت نه ژغورل کيږي، بيابه نه بواځي دخپل تقدير اوهستي واکوال وي، بلکي دنړي دقيادت لپاره به ترټولو مضبوط کانديد وي.

دهمدي لپاره ئي په فوق العاده قوت داهنګامه توده کړي وه ، چي ګني اسلام له سياست نه جلاشي دي اوسياست په اسلام کي ګډول يوه ګناه او کمزوري ده .

مګرخوشبختي مخکي څومجاهدوعلماوو وکړاي شواي په دي لارکي لوي نقش ولوبوي چي داخبره په جذاب منطق اورسا دلايلو توضيح اوتشريح کړي چي سياست داسلام يوه برخه ده اوپه اسلام کي دژوند ټول سيستم په ګوته شوي، دسياست بنيادونه اوکرښي واضح شوي اوديوه مقبول اومعقول سياسي نظام اوسياسي « ليډرشپ» دجوړيدو دتګلاري اوشيوي اساسي ټکي وړاندي شوي دي.

ددي علماوو نظرياتو په ډيره چټکي دمسلمانانو ذهنيتونه جوړکړل، اوداموضوع چي سياست داسلام يو مسلمه برخه ده ، ديوه قوي علمي ذهنيت اوسياسي ، مبارزاتي حرکت په توګه راڅرګنده شوه، ان تردي چي وروسته خبره دي ته راورسيدله چي په سياست اودولتونو باندي داسلام دواکمنيدو لپاره سترسترغورځنګونه پيل شول، پياوړي شول اودملي حرکتونو بڼه ئي ونيوه .

په نتيجه کي ئي داسي وشول چي له اسلام نه دسياست دبيلتانه نظريه په بشپړه توګه ماته شوه اوداېران اسلامي انقلاب اوداافغانستان جهاد ددي ناکامي اوپي بنيادي نظرئي په تابوت وروستي ميخونه ټک وهل .

اوس نوڅوک ددي خبري جرائت نشي کولاي چي په اسلام کي سياست نشته اوياداواړه له يوبل نه پردي شيان دي مګر توطيه ګران په يوه بله بڼه را وړاندي شوي دي اوپه ډيره خطرناکه شيوه داموضوع اذهانوته غورځوي چي داصحيح ده چي په اسلام کي سياست شته ، داسلامي نظام لپاره کرښي اوتګلاري ګوته کوي ، اماخبره داده چي په هغه څوك عمل نه کوي ، عمل وړاندي ناممکن دي اومسلمانان ددي قابليت نه لري اونه ئي پيداکولاي شي چي اسلام دي په خپل ژوند اوټولنه واکمن کړي .

متاسفانه داسلام دښمنان دخپلودي خبرواوتبليغاتولپاره نموني هم وړاندي کولاي شي ، هغوي دبيلابيلو اسلامي جريانونو ، غورځنګونو اوقيادتونو کرندودونو اواعمالوته ګوته نيسي . اوواني چي ددي غورځنګونو اوقيادتونو روشونه اوعملي تګلاري دغيراسلامي نهضتونو اوليډرشيپونو له تګلارو اوعملکردونو سره څه توپيرلري په همدي وجه ده چي موږ وايو اسلام اومسلمان له يوه نوي ازمويښت سره مخامخ دي ، کاشکي مسلمانان په تيره هغه چي ځانونو ته دمسلمانانو غورځنګونه اوقيادتونه واني په اسلام اوداسلام په عظمت اوابرو ترحم وکړي اوپوه شي چي ددوي دانحراف اوبدکاريو له امله دګران اسلام دپرم اوشوکت تحقق ترڅوښتنولاندي راشي .

۲ - به فرض محال اگر همه، مهاجمين، پنجشيري، تاجك و دري زبان هم بوده باشند، نميتوان يك گروه چند صد نفري را نماينده و ممثل ايده و خواسته، اهالي اين شهر يا منسوبين به آن قوم خواند. علاوه بر منظمات جهادي، خبرنگاران خارجي مقيم كابل نيز مهاجمين را كارمندان رام دستگاه جاسوسي اداره، كابل خواندند. چگونه، يك جاسوس را ميتوان نماينده، اين قوم يا آن ملت خواند؟ نشريات پاكستاني هـر هفته گزارش ميكنند كه در فلان قريه، ولايت پنجاب يا سند، افراد مسلح زن يا دختري را در ملاء عام يا در برابر ديدگان اقاريش مورد هتك حرمت قرار داده اند. بر اساس همين نوع گزارشها، بيشترين موارد فحشاء و تخلف از قانون در دو ولايت سند و پنجاب بوقوع مي پيوندد. آيا با استناد به اينگونه گزارشها، ميتوان همه، اهالي اين دو ولايت را متهم به فحشاء كرد؟

هم اينك گروه "جنبش ملي مهاجرين- MQM" برهبري الطاف حسين درگير يك جنگ تمام عيار عليه حكومت مركزي پاكستان است. اين جنبش خود را مدافع حقوق مهاجرين مسلماني ميخواند كه پس از تشكيل پاكستان، از هند به اين كشور آمده اند. آيا ميتوان گفت، از آنجاييكه الطاف حسين خود را علمبردار حقوق مهاجرين ميخواند، همه، مهاجرين را حامي و پيرو الطاف خواند؟ هر گاه چنين ادعايي صورت هم بگيرد، كاملاً بي اساس و عاري از حقيقت است، زيرا هم اينك شاهد هستيم كه رياست هيئت مذاكره كننده، حكومت مركزي پاكستان را در مذاكره با هيئت الطاف، فردي بعهده دارد كه خود اهل ولايت سند و از مهاجرين است يعني جناب نعيم داد خان كه عضويت حزب حاكم يعني حزب خلق پاكستان (PPP) را نيز دارد.

قس علي هذا، ممكنست انجنير مسعود خود را مدافع حقوق پنجشيريان، تاجكان يا دري زبانان افغان خوانده باشد يا بخواند. ولي اين خيلي سفيهانه خواهد بود كه بناء بر چنين ادعاي فرضي يا احتمالي از جانب انجنير مسعود، ما همه، پنجشيريان، تاجكان و دري زبانان افغان را پيرو و حامي انجنير مسعود و شوراي نظار بخوانيم.

۳ - بعضي از مقامات پاكستاني انجنير مسعود را نماينده و ممثل اراده،

قابل توجه دوستان پاكستاني :

اختلاف بايك گروه رابادشمني با يك ملت مبدل نسازيد!

قسمت دوم

حامد

پنجشيريان، تاجكان و دري زبانان افغان ميخوانند. اين عده يا اهداف خاص سياسي را تعقيب ميكنند يا اينكه از اوضاع كشور ما كاملاً بي اطلاع اند. در مورد گروه اول بعداً توضيحاتي ارائه خواهد شد و عجالتاً به اطلاع افراد گروه دوم ميرسانيم كه تحليل شان كاملاً بي اساس است. زيرا، اولاً: همه، اهالي پنجشير، در گروههاي سياسي فعاليت ندارند؛ ثانياً: فعالين سياسي پنجشيري همه، عضو منظمات جهادي نبوده و عده، زيادي از آنان در گروهكهاي غربگرا، سلطنت طلب و چپي عضويت دارند؛ ثالثاً: همه، پنجشيريان داراي سابقه، جهادي، عضو جمعيت اسلامي نيستند. عده، زيادي از آنان در ساير منظمات جهادي بالخصوص حزب اسلامي افغانستان عضويت دارند؛ رابعاً: همه، پنجشيريان جمعيتي، عضو شوراي نظار نيستند. عده، زيادي از برادران پنجشيري عضو جمعيت اسلامي، شوراي نظار را يك تشكل تحت نفوذ عناصر غير مسلمان ميخوانند؛ خامساً: همه، پنجشيريان عضو شوراي نظار، پيرو يا حامي انجنير مسعود نيستند. بعنوان مثال محترم داكتر عبدالحي الهي از كساني هستند كه مسؤوليت فاجعه، سه ساله، اخير يعني دوره، ائتلاف را قبل و بيشتر از همه به انجنير مسعود راجع ميكنند؛ سادساً: نه همه، پنجشيريان تاجك اند و نه همه، تاجكان پنجشيري اند. غير از تاجكان، منسوبين به ساير اقوام افغان نيز در دره، آزاده پرور پنجشير سكونت دارند و هكذا، تاجكان افغان همه در دره، حماسه آفرين پنجشير سكونت ندارند؛ سابعاً: همه، تاجكان دري زبان نيستند. عده، زيادي از تاجكان افغان در ولايات مشرقي، جنوبي و جنوبغربي سكونت دارند كه به لسان شيرين پشتو تكلم ميكنند. همچنان، دري زبانان نيز همـه تاجك نيستند. عـده، زيادي از ازبكان، تركمنان، قزاقان، قرغزان، مغلان، اعراب، بلوچان، هزارگان و بالخصوص پشتونها بعوض السنه، زيباي مادري شان، به لسان شيرين دري تكلم ميكنند.

٤ - باستثناء عده، قليلي، قاطبه، پنجشيريان، دري زبانان و تاجكان افغان از عملكرد شوراي نظار و انجنير مسعود بالخصوص انعقاد اور بند وي با قواي متجاوز روس و انعقاد پيمان جبل السراج تنفر و انزجار دارند. پنجشيريان خوب ميدانند كه عاملين سركوب قيام تابستان سال ۱۳٥٤ نهضت جوانان مسلمان هم اينك در كنار و تحت حمايه، انجنير مسعود قرار دارند. تاجكان افغان فراموش نكرده اند كه انجنير مسعود عليه مجاهدين پروان، كاپيسا، اندراب و غور بند كه اكثر شان تاجك بودند، چه مظالمي كه روا نداشت. در همان اياميكه اين جبهات تحت حملات هوايي و زميني قواي متجاوز شوروي و مزدوران داخليشان قرار داشتند، انجنير مسعود نيز اين برادران مجاهد و تاجك خود را مورد حمله قرار ميداد. از نظر مسعود، گناه آنان اين بود كه عضويت حزب اسلامي را داشتند. تاجكان مجاهد افغان فراموش نكرده اند كه همين مسعودي كه توانست حضور متجاوزانه، روسهاي كمونست را در سرتاسر افغانستان تحمل كند، نتوانست قوماندانان چون انجنير طارق، انجنير سليم، صوفي پاينده، استاد فريد، حامد الله، استاد فتح محمد، كريم عابد و خان آقا را در ساحاتي كه به قيمت خون دهها برادر و خواهر شان آزاد كرده بودند، تحمل كنند. اينان همه تاجك بودند ولي گناه شان از نظر مسعود اين بود كه اعضاء حزب اسلامي بودند. بايد به اطلاع اين مقامات پاكستاني برسانيم كه اگر قرار باشد در افغانستان كسي را رهبر و نماينده، تاجكان افغان بخوانيم، اين شخص نميتواند كسي غير از حكمت يار باشد. ملت مجاهد تاجك، كسي را رهبر خود ميداند كه مسلمان مؤمن يعني مبراء از تعصبات لساني، قومي، سمتي و نژادي بوده و تا آخرين روز عليه قواي متجاوز جنگيده باشد. فرد با اين مختصات، حكمت يار است نه مسعود.

اينكه بعضي از مقامات پاكستاني انجنير مسعود را نماينده يا رهبر تاجكان افغان ميخوانند، بزعم خـود شايد ميخواهند انجنير مسعود را تحقير يا تضعيف كنند. اما، اينگونه اظهارات حاكميت متزلزل و رو بزوال مسعود را تحكيم و تقويت ميكند. اگر انجنير مسعود براستي نماينده و رهبر پنجشيريان، تاجكان و دري زبانان ميبود، امروز با اين وضع شرم آور دست بگريبان نميبود. بر خلاف تصور دوستان پاكستاني و ايراني ما، انجنير مسعود ديگر از حمايت هيچ فرد مطلع و داراي وجدان بيدار در افغانستان برخوردار نيست. در شرائط كنوني، براي مسعود چه سعادت بالاتر ازينكه ما ويرا رهبر پنجشيريان و بالاتر از آن رهبر تاجكان بخوانيم. بعضي از دوستان پاكستاني و ايراني ما بناء به دلائلي، سخت تلاش ميورزند كه انجنير مسعود را به معراج يعني رهبري دري زبانان افغان برسانند. ولي غافل ازينكه، انجنير مسعود سالها قبل اين پوتانسيل و پايگاه را از دست داده است.

٥ - عده اي از مقامات پاكستاني من باب عقده گشايي يا تحقير طرف مقابل، انجنير مسعود را رهبر بزعم خود يك اقليت كوچك افغان يعني اقليت تاجك ميخوانند. بااين دوستان عرض ميكنيم كه اولاً منحيث مسلمان، هرگز مجاز به مطرح گردانيدن بحث اقليت و اكثريت نيستيم. ثانياً: اگر به تاريخ مراجعه كنيد در خواهيد يافت كه اقليتها بوده اند كه تمدنها را ايجاد كرده و امپراطوريهاي عظيم را منقرض ساخته اند.

٦ - اين دوستان بخاطر تحقير و ناچيز جلوه دادن اداره، كابل ميگويند مسعود رهبر يك جناح كوچك در يك قسمت كوچك است. اظهاراتي بدين منوال، بيشتر باعث محكوميت خود اين افراد ميشود. زيرا، پاكستان بود كه يكجا با ايران و سعودي و تحت نظارت واشنگتن و مسكو، پوستهاي كليدي را در حكومت ميد اِن پشاور گورنر هاوس - Made in Peshawar Governor House به گروه انجنير مسعود تفويض كردند.

آيا اينكه، مقامات پاكستاني يك جناح كوچك در يك اقليت كوچك را بر يك كشور و يك اكثريت عظيم تحميل كردند، خود يك جفاي بزرگ در حق ملت مسلمان افغان بشمار نبوده است؟ همين عملكرد حكومت وقت پاكستان باعث شد تا كشور ما به ويرانه اي مبدل گرديده و در شهرهاي كشور ما بالخصوص جوي خون جاري شود. حكومت پاكستان به چه منظور، اين جناح كوچك در يك اقليت كوچك را بر كشور ما تحميل كرد؟ آيا حكومت جناب نواز شريف درجه يك تراژيدي كنوني افغانستان نيست؟

۷ - همين مقاماتي كه امروز مسعود را بنام پنجشيري، تاجك و دري زبان محكوم ميكنند، در سالهاي قبل بالخصوص پس از انسحاب قواي منهزم اردوي سرخ از افغانستان، چه سخناني كه عليه "اكثريت پشتون" و "اقليتهاي محروم" نگفتند؟ ملت ما مصاحبات، مقالات، تبصره ها و تحليلهاي اين بزرگان را كه آنروز در دفاع از "اقليتهايي محروم و تحت ستم" و عليه "اكثريت حاكم پشتون" ارائه ميكردند، فراموش نكرده اند. توطئه، "اقليتهاي محروم مظلوم" و "اكثريت حاكم ظالم" به مدت سه سال كشور ما را ويران و خون ملت ما را ريخت. آيا اينك مقامات پاكستاني ميخواهند تحت عنوان دفاع از "اكثريت"، سلسله، جديدي از خونريزي را در افغانستان آغاز كنند؟

۸ - در دوران جهاد ملت ما عليه متجاوزين خارجي و كمونزم، بعضي از رهبران ايراني بعوض تجهيز و تسليح برادران افغانشان، بيشترين هم و غم شانرا بر تشكيل جبهات "اقليتهاي محروم" عليه "اكثريت پشتون" و در مرحله، بعدي بر تشكيل "جبهه، مشترك و وسيع هزارگان و اهل تشيع" افغان عليه "اكثريت حاكم سني" متمركز كردند. امروز مي بينيم كه ايران در افغانستان هيچ كس و هيچ چيزي

ص (۳)

حال دویلو لایق ندی

دمرګونو بلا

میوند

داڅه موده دچاودنواوترورونودبلاخوله پټه وه موږ خوشاله وو چي نور ددغي بلاله شره خلاص شوي يو ، دلته ډيرو انسانانو غوښي يوتوالوزولي ډيرکوروته يي ميراث او په ويرکښنولي وو او ډېر ارمانونه يي خاوري کړي دي، هغه وخت کابل روسي لښکرونيولي و او کارمل يي دکابل پرتخت کښنولي و، نجيب د خاد دشيطاني شبکې مشر و ټول پوهيدل چي داچاودني څوك كوي دتخريبكاري داليري دچاپه مېراوتکيه روانه ده ، له کابل او کارمل سره چادخپلوي او ورورولي اېکي اورشتې غزولي اوټينګې کړي وې . په کابل کي دچلستګرويشل کېږي هلته څوک دپښتواوپښتنوله نوم دپښتنو دوژلو سازشونه کوي داحقيقت ښکاره دي، څرګندي بولوته څرګند دي پاکستاني مقاماتوته هم څرګند دي هغوي ته هم چي نن په سناوپارلمان کي دپښتنو دحقوقو ګانې په سينه وهي دحب الوطني اکټونه کوي اودمحب الوطن سياستمدارلقبونه يي ګټلي دي غل چي له کوره وي دغلامخه هيڅوک نشي نيولي لکه چي وي نشواي نيولي خو دلته به په يي کوره مهاجرو افغانانو پسي پوليس راواخيسته ئانې به يي تري ډکي کړي په موټرو کي به يي واچول اودکمشنري ډيابوګانوړحم اوکرم ته به يي وړاندي کړل .په سخته ګرمي اوډوډې کي به په ساعتونو اوشپوورخوپه تنګواوتيارو حوالاتونوکي پندوو اوچي وتل به نويه جيبونوکي به يي دښاري بس کرايه هم نه وه پاتي په افغانستان کي به دغو مهاجرو اومجاهدو دروسانو ټانکونه اولښکري پسي اخيستي وي ، پوځونه به يي په مخه کړي وو خودلته به بودووپوليسو ډله ډله ترمخ کړي وو ، پدي توګه به دمجاهد له غرور اودمهاجرله مظلوميت سره يوه بله لوبه اوږوکه رامنځي ته شوه ، هيچايي پوښتنه نکوله ، هيچا اعتراض نه کاوه اوهيچاهم داونه ويل چي په مخ دي څرګله دي .

همداسي هره ورځ سياسي قتلونه اوترورونه چي څوك سياست پوه اومخور په دجهاد صف نه راګډشونوسره يي خوړلي و، ديوه قاتل هم پيداشو ديوه هم دقتل انګيزه څرګنده نشوه اوبدي اړه دهيڅ يوه قتل حقيقت چاته معلوم نشو، دهيچاقاتل ونه نيول شو دهيڅ يوه قتل تحقيقات بشپړنشول او يومجرم هم محاکمه نشو . دادپرون هغه ترخه واقعيتونه دي چي وشول اوتيرشول نيوهيږم چي هيريه شي اوکه نه . خودهيريدو ندي ځکه خووايي چي تيربه شي خوهيربه نه شي .

نن يوځل بيا هغه تاريخ اوهغه واقعات تکراريږي په هماغه پيښورکي تکراريږي اوله هماغه کابل ته اداره کيږي ، په دومره توپير چي اوس دببرك اونجيب پرځاي استادرباني اواحمدشاه مسعود دکابل دتاج اوتخت په بدمستي کي ډوب دي نورهيڅ ندي شوي، نظام هماغه سيستم هماغه ، روحيه هماغه اوافراد هم هماغه .

دخاد نوي زړه کارکوونکي خوڅه ځمکي ونه خوړل پريوه هم څه ونشول خاد له خپلوټولو شيطاني سازشونو، تشکيلاتو، تاکتيکونو، حربو، مانورو، افرادو اوخبروسره سلامت دي ،په کابل کي بواځي دخاد سرته خبردي دنورهيڅ شي اوهيچاخبرنشته .

هرڅه برباد اوتباه شول، غلا اولوټ شول ورك اويوپناشول خوخاد» پاتي شو، وسائل شو او ډېرښه وسائل شو .

پــه جهاد کي دوه مليونه افغانان شهيدان شول دمعيوبخو لاڅه اټکل ندي شوي خوددغو دوو مليونو افغانانو يوقاتل هم محاکمه نشو له يوه نه هم پوښتنه ونشوه څوارلس کاله جهاد، مرګ ، ژوبله ، ورانۍ بربادي خوهيڅ ګنهګار معلوم نشو، بيارهو، توپونو اواورونو دهيوادورانوونکي يومجرم ونه نيول شو، دژونديو انسانانو ښخوونکي اوقاتلان يوهم محاکمه او مجازات نشو دخلق»پرچم پرفاجعو اووطن پلورني هيڅ غوږونه ګرول شو خودبه پوښتنه نه کيده ، خود به مجرم ته مجازات کيده ځکه چي دمجرم او ګنهګارحفاظت تضمين شو اوقاتل اوس هم سري سترګي ګرځي لاسونه يي اوس هم نهوونوسره دي، اوس هم پــه بيګناه وينوتويولو لګيادي اوس هم ويني بهيږي وطن ورانيږي لوټ کيږي او تباه کيږي اوددي سربيره يوځل بيا پيښورته راورسيد يوځل بيا په پيښور کي دچاودنواومرګونو هنګامه خوره شوه ، زړه لويه پيرته نوي شوه ، خونکاريبا چاره تيزه کړه ويني بيا وبهيدې ، دباروتو بوي بيا پورته شو.

مولوي صاحب محمدي چي سياف صاحب ته دخبرولپاره جلال آبادته ورغی دايي ورتــه ويل چي لرميږي خوموداچاودني بندي کوي اوداوخاد » مولزغلي کوي بيا بــه دسولي اوقدرت دانتقال خبري کوو، محمدي صاحب چي دانن په اخبارکي دمرحوم جنرال کټوازي پرمرګ دخواشيني څرګندونه کړي دايه يي سياف صاحب ته ويلي و چي دسولي خبري کوي نودګوليو ژبه خوموګونګه کړي او دبموتو اوباروتوګواښ مو غلي کړي .

آخردچاودنو زور اودرد خوبه لږ اوډېر دوي ته هم معلوم شوي وي، له استادرباني نه لکه چي دکاشانه بدر (ونظامي حويلي) چاودنه هيره ده چي بواځي دانجينرابوب وروورتري ژوندي ووت ځکه خوځينو همده ته ګوته نيوله په دوهم ځل په قمرالدين ګړي کسي بيا له نظامي دفترسره چاودنه چي نږدي وه بهولو مهاجروپرضد يوخونړي تصادم رامنځ ته کړي لکه چي ددوي له حافظې وتلي ده خواصلي خبره داده چي «خاد» «خاد» دي او اوس خو «رام» شوي هم دي هغه به خپل کارکوي داستاد ترږيري لاندي به يي کوي ، په خپله استادبهٔ لاندي به يي کوي په دوهم اودريم لاس باندي به يي پري ترسره کوي، آخرهغوي طبيعت اومزاج همدغسي دي اودهغو ژوند اوبقا پدي کې ده .

که داسي نه واي نودخاد اداره به هم نه وه دخاد تخريبکاري اوشيطانتونه به نه وو معاشونه اولګښتونه به هم نه وو مږي اوچړچي به هم نه وي، دمرګونو سلسله به هم ختمه شوي وه دوينو توئيدل به هم پندشوي وو دبمونو چاودني به هم نه وي اودباروتو بويونه هم اوچي دوي شته نوهرڅه شته بي امني ، تباهي، مرګونه ، چاودني داهرڅه هماغسي روان دي، دوي ته له پرون نه نن ښه حفاظت حاصل دي نن داسلامي حکومت اواسلامي انقلاب په لمن کي دحفاظت او فعاليت له نعمت نه برخمن دي ، پرون چي ناروا وو هغه نن ټول روا شويدي دپرون دوستان دښمنان شوي اودښمنان دوستان څوچاچي دخداي دښمنان په دوستي نيولي دهغوي عاقبت اوانجام هم معلوم دي، رسوايي تورمخي اوشرم .

دالويه داائتلاف دهمدي لپاره رامنځ ته شو، زمينه ورته برابره شوه ، مخه يي پرانستل شوه او قدرت ته ورسول شو، چي دملت مجرمان دولس قاتلان اووطن پلورونکي خوندي پاتي شي بقاېي تضمين شي له انتقام ،محاکمي اومجازات نه وژغورل شي اوداسي نادودي اوناکردي په لارواچول شي چي هغه پخوانۍ له خلکوهيري شي .

پدي لوبه کي ښه کامياب شول ښه کامياب شول کامياب څه چي خوندي او فعال پاتي شول تردي چي دتخريبکاري توطئو، سازشونو اوراتلونکو نقشوپلي کولو جالونه يي بيرته خپاره اوغزول .

ورستي چاودني اودجنرال صاحب کټوازي اووکيل وزيرمحمد شهادت په يوه غشي ددوو ښکارونوهڅه ده داسي هڅه چي پرون پري کي ، چي ، يي اوخاد نه وو توانيدلي ځکه هغه څه چي له دوي پاتي دي نن استاد رباني - مسعود اواستاد سياف په وجودکي د«رام» په توطئوکي ترسره کولي شي .

دمـرګ دسوداګروخبرهـره ورځ راځي
دي بنارته په سوغات کي يوسره هره ورځ راځي

اوادشعيب (ع) په واقعه کي) ارشاددي ، اي ځما قومه ! پيمانه او تول پوره پوره کوي، په انصاف سره اوخلکوته دهغوي څيزونه کم مه ورکوي .

(هود - ۸٥)

خانم رافل : ایران در امور افغانستان مداخله میکند

ملګري ملتونه : داستعمار یوه بیلګه

دغلجي لیکنه

په تیریسي :

ملګري ملتونه دهیوادونو ترمنځ دعدم مساوات او نابرابری مظهردی :

دملګروملتونو دمنشور په مقدمه کي اوهمداشان دنوموړي منشور ددوهمي مادي په لومړي فقره کي ادعاشوي ده چي ددغه جهاني سازمان اساس دغړوهیوادونو دمساوات اوبرابري په اصل ایښودل شوي دي. امادغه ادعاپه عمل کي صرف یوه پوچه اوبي محتوي وینادهږ ځکه چي دملګروملتونو پښتنه دهیوادونوترمنځ په عدم مساوات اونابرابري ولاړدي اودغه عدم مساوات دمنشور ددرویشتمي مادي دحکم له مخي «قانوني» بڼه غوره کړي ده ، دمنشوردرویشتمه ماده دملګروملتونوپه چوکاټ کي دامنیت دشورئ دتشکیل حکم کوي اودنوموړي شورئ دترکیب په باره کي یې خاص تدابیر غوره کړي دي .

دنوموړي مادي دحکم په اساس دامنیت شورئ پنځلس غړي لري چي له دغي جملي نه یې پنځه سترقدرتونه یعني دامریکامتحده ایالات، روسیه ، انګلستان ، فرانسه اوچین دایمي غړي دي اولس نوري هریو ددوه کلونو لپاره دعمومي اسامبلي له خوا انتخابیږي .

پنځوسترو هیوادونوته دامنیت په شورئ کي دایمي غړیتوب اووروسره ورسره هر دایمي غړي ته دویټو دصلاحیت حق ورکول دغړوهیوادونو ترمنځ دمساوات اصل پایمالوي. امریکایي حقوق پوه، رابرټ تکر دملګروملتونو په سازمان کي دغړوهیوادونوترمنځ دنابرابري په باره کي داسي لیکي : « دملګروملتونو دسازمان تشکل اوساختمان چي لـه جنګ نه دراوروسته دبین المللي اړیکو دتنظیم لپاره ایجاد شوي دي، دهیوادونو ترمنځ پخواني عنعنوي نابرابري ټینګه ساتلي ده .» (رابرټ تکر، په ملګروملتونو ګوزار(۱۹۸۸ - نهم مخ) .

رابرټ تکر وړاندي لیکي :

« دملګروملتونومنشور، له جنګ نه په وروسته نړي باندي دستروقدرتونو دجمعي تسلط اواسټیلا مظهردي. »

(پورتني اثر،یولسم مخ)

اساساً دملګروملتونودسازمان طراحانو دمنشور دتسویدلو په وخت کي دو زورحق دي» له مقولي نه داسي په دقت استفاده وکړه چي دهیویښته په اندازه یې هم ورنه انحراف ونکړ. ټول امتیازات یې دزور وروللپاره چي په خپله همدوي دي مختص کړل. په همدي سبب «پوهنمیرحقوق پوهان او دبین المللي چارو مبصرین وایي چي سترقدرتونه په قانون اوعدالت هیڅ عقیده نه لري؛ کله چي ددوي ګټي مطرح وي، دوي بیا ځانونه دهیڅ قانون، قاعدي اویا اخلاقي اصل تابع نه بولي .

دهنګري دبخارست دپوهنتون استاد پروفیسر سیلویودملګروملتونوپه تاریخ اوددغي موسسي دمنشور دتصویبیدلو دعملیي په باره کي پـه یوي تبصري کي داسي لیکي :« زور په قانون غلبه وکړه ، اوپه دوهم نړیوال جنګ کي دفاتح ایتلاف پنځوستروقدرتونو دامنیت دشورئ ددایمي غړویه توګه په ملګروملتونو کي زیات امتیازات ترلاسه کړل. له دغوامتیازاتو نه یوهادي چي دوي هریو کولي شي چي دامنیت دشورئ هغه پریکړه ویټوکړي چي په ګټه یې نه وي. دملګروملتونودتاسیس په باره کي اقدامات دهغه دوران انعکاس دي چي دزور او قـوت حقایق پکي په ماهرانه تـوګـه دبین الـدول حقوقو دبلیغوعباراتوله نازکي پردي لاندي پټ شول ... که موږ دملګروملتونو موسـسي ته وګورو، په واګه راته ځرګندیږي چي دغه موسسه دغړوهیوادولو دبهرني پالیسي دتطبیق یوه وسیله ده چي ورباندي مسلط دي .» دپروفیسر سیلویو، دملګروملتونوتاریخ (۱۹۹۰،اوه ویشتم مخ)

ښکاره خبره ده چي دلته دپروفیسر سیلویوسترو هیوادونوته چي دملګروملتونو دمنشور داحکامو له مخي په نوموړي سازمان باندي تسلط لـري، اشاره کوي. فقط همـدغه هیوادونه کـولي شي چي دملګروملتونوله سازمـان نـه دخپلو استعماري پالیسو دتطبیـق لپاره کارواخلي .

یوشمیر لویدیځ لیکوالان په ډیري بي شرمي ادعاکوي چي دملګروملتونو په موسـسي کي دغړوهیوادونو ترمنځ موجود عدم مساوات ددغي موسـسي دفعالیت لپاره ضروري دي. دوي وایي چي که سترو قدرتونو ته امتیازات نه واي ورکړل شوي، دملګروملتونوموسـسي بـه هیڅ کارسرته نه وي رسولي .

دغه کسان دخپلي ادعادثبوت لپاره هیڅ ډول فلسفي، حقوقي یا اخلاقي شواهد اومدارك نه لري؛ دوي په خپل استدلال کي فقط اوفقط په زور اتکاء کوي ، اونړي داسي یوځنګل بولي چي زور وربايد پکي له ټولو ستره برخه ترلاسه کړي. ددغوکسـانو لـه جملي یوتن ، دملګروملتونو دجوړښت په وخت کي دامریکا دمتحده ایالاتوبهرنیو چارو وزیر کورډیل هل و. کله چي دملګروملتونوسازمان په فعالیت پیل وکړ، ده ټولي دنیاته اعلان وکړچي دامریکامتحده ایالات که دویټوقدرت اوصلاحیت ونه لري، یوه ورځ به هم په ملګروملتونوکي پاتي نشي . همدغه کورډیل هل په حقیقت په ملګروملتونو کي دموجود عدم مساوات اوبي عدالتي درامنځ ته کیدوسترمسئول دي. ده دملګروملتونو دمنشور په تسوید او دسانفرانسیسکو دکنفرانس په جوړیدلو کي ستره برخه درلوده اوستروقدرتونوته دامتیازاتو دورکولو سخت مدافع و (ملګري ملتونه ستهوایسبنګر) اوستر قدرتونه ، دریم مخ)

دپخواني شوروي اتحاد واکمنو هم په ملګروملتونوکي دقدرت له ویش نه دفاع کوله اوپه نوموړي موسسه کي یې دغړوهیوادونو ترمنځ نابرابري ضروري ګڼله . په (۱۹۹۰) کال کي په ملګروملتونو کي دشوروي اتحاد نماینده (اندري ویشینسکي) په صراحت وویل چي دویټوقدرت اوصلاحیت داسي یواصل دي چي دملګروملتونو پښتنه تشکیلوي (دمخه ذکرشوي اثر، دریم مخ) (نوربیا)

خوازه ترخه

مامورغیور

دغیرت په لار

ذبیح الله "شرر"

په غیبتني هسي برناحقه غټ غټ نومونه ایښي وي اوځیني بیا اسمي یاسمي وي، نومونه په هغوښه ښکاري اوهغوي په نومونو ، بوله دغوشاه زلمو ته مامورغیور" ځ چي دنوم په اوریدو به ئي دهر مجاهد جهـادي ولولي راپاریدلي اوداسلامي حکومت دارمانجنو پـه زړونو کي به ئي دامیدهیوي بلولي، خوارمان چي موږ، ته چا نه ډیوي برېښودي اونه ډیوه بلوونکي .

ځوك چي ئي ځنګه تعبیرکوي هغـسي دي کوي خوزما په خیال دشهید غیور په ځیردهرمجاهد قوماندان شهادت داسي معني لري چي داسلامي حکومت دقیام لپاره دودریدلو ستنونه یوه ستن ولویده . افغانسـتان وران شو، بیا به ئي خداي جوړکړي . ټانکونه کباړ شول طیاري ټوکرټوکر شوي، کارخاني اوفابریکي اره اره شوي، پلونه وران شـول، تعمیرونه ړنګ شـول، هرڅه وشول ، هره ورانئ اوبربادي وشوه خوکه یوځل امن راغئ نو امید دي چي الله (ج) به ئي هم زموږ، په لاسونو بیا جوړ کړي . مګر ډیوس ساري جهادي تاریخ په اوږدوکي روزل شوي غیورخیل به له کومه کړو ؟

چانه دي ویلي چي غیور به ګټي له کوم میدان نه تښتیدلي وي، روسانوپخپل ټول توان ونکړاي شول چي دغیوریه لاس بندشوي سرکونه اولاري پرانیزي نومجبوراً یې دبغلان مرکز له بغلان ښارنه پلخمري ته نقل کړ. دهغه نظم اوامنیت دمجاهدینو دسترګو پخوالي اودمنافقانو دسترګوازغي ؤ. غیور به لرې خبري کولي درویش صفته ؤ، پلار به ئي ویل چي دي هیڅ تلري حتي کلوشي ئي هم زمایه پښو کړي دي چي دوه ګوتي تري غټي دي. دوستان ئي وایي چي شهیدغیوریه پـه هوجره کي دخپلوپرخـاي کي کښیناسته دځینو اماتورو قوماندانانو په ځیر ئي اکټونه نه کول اوکه بـه چاله پخوا نه پیژنده نودنوروجاهدینوسره ئي فرق کول ګران ؤ . اوداهغه صفتونه دي چي زموږ، له ګران پیغمبرصلي الله علیه وسلم نه رایاتي دي خوډیر لږ،خلك ئي عملي کوي .

ثبات یې هم داسي ؤ چي دائتلاف یو لاس پوځي له یوي طیاري لیونونو سره دهغه په اخستلو پسي ورغي ، مګر غیور دهغه په مخ لاړي توکري اوهغه پسي ئي له طیاروسره وسوځولي .

خو سـوال دادي چي دغیورپاکه اومظلومه وینه به دحزب اسلامي دنورو باتورو خومظلومو قوماندانانو دوینو په څیر بي پوښتني اوبي انتقامه پاتي شي اوکه نه بي رحمه قاتلان به ئي دخپل جرم سزا وویني ؟ دالومړي ځل نه دي چي دحزب قوماندان په داسي بي رحمي وژل کیږي اونه به وروستي وي، که ئي مخه ونه نیول شوه .

وائي چي دیوسړي چرګه ورکه شوه خوزامنوئي پوښتنه ونکړه، پلارئي ورته ډیر وویل چي دچرګي پوښتنه وکړي، مګر چااهمیت ورنکړ، بله ورځ ئي پسه چا غلا کړ زامنوئي متنږي رامنځي ووهلي خوپلارئي ورته ویل چي دچرګي پوښتنه وکړي . خو ورځي لاتیري نه وي چي غوائي ئي ورك شو . زامن ئي بیا لالهانده شول مګر پلارئي همدا ویل چي دچرګي پوښتنه وکړي . آن چي بله ورځ ئي چا زوي مړکړ اوپلاریم همدا ټغرګاوه چي دچرګي تپوس دي وشي، دپلاردلیل داو چي که دچرګي پوښتنه موکړي واي نوبیا به موچاپسه ،غوائي اوحتي زوي ته ځه نه ویل .

مطلب دادي چي دحزب اسلامي په قوماندانانو دمنافقانو جسـرأت دي حدته رسیدلي چي اوس ئي پوره کاروانونه اولس ګونه مجاهدین هم ووسره له مینځه وړي. دادټول ملت اوخصوصاً دحزب اسلامي دمجاهدینوغوښتنه ده چي باید له هرڅه نه مخکي دحزب دهرمظلوم شهید دوینو پوښتنه وشي اوپوښتنه له لومړني مظلوم شهیدنه پیل اوپه شهید غیوریاي ته ورسیږي اوهرقاتل تـه پـه انقلابي محکمکي انقلابي سزااورکول شي ګني نو ددي کاریه دوه سترزیانونه اوخطرناك نتایج رامینځته شي یوداچي دمایوسي اوعدم تحفظ احساس بـه ډیرمخلص اوپاتور شخصیتونه انزوا اوګوشه ګیري ته اړکړي . بلـه داچي دا اوریه قدم په قدم وړاندي ځي اوهغه لمنو ته به ورسیږي چي ځانونه ډیر محفوظ ګڼي بیا به کوم غیور هم نه وي پـاتي چي ددوي لـه لمنو اورمړکړي .

چراحکومت ونظام ایده آل والگوی اسلامی تاکنون بوجود نیامد ؟

نظری براسباب وعوامل ناکامی طرزالعمل وشیوه کارسازمان های اسلامی

ترجمه : وحدتیار

پیوسته به گذشته :

